پوهنمل حاجی محمد نوزادی ۱۸/۰۹/۲۰۱۰

# د افغانستان کانونه : دجنگ کلونه پرعینک ځنګه تیر شول
# ( پنځمه برخه )

دڅلورمی برخی سره په تړاو کی .

دمعدن کارونه دا مهال ( ۱۹۷۸ ) په ډیره چټکی سره په دوو موخو روان وو . د یوی خوا د کشف شوو ساحو د زیرمو پرمحاسبه باندی اکتشافی کارونه مخ ته تلل او دبلی خوا یی په ګاونډی سیمو کی دمعدن د پراختیا په موخه دمعدن د ښاخونو دلټون چاری مخته روانی وی . په ۱۹۷۹ کی هم کارونه ټول کال بیله ستونزو مخته تله . دهمدی کال د ډیسمبر ۲۷ د جدی ۶ بدمرغه نیټه را ورسیده . د ۱۹۸۰ کال لومړی برخه هم خاص مشکل نه وو او لدی نه وروسته امنیت ورځ تر بلی په خرابیدوسو . د نور هیواد څخه مو تفحصاتی ، اکتشافی او نقشه اخیستونکی ګروپونه یوپه بل پسی مرکز ته راغوښتل او په ارامو سیمو کی مو پرکارونو زور اچاوه . په وزارت کی د شوروی مشاورانو نظر دا وو چی باید ددوی متخصیصان په کابل کی په لابراتواری کارونو لګیاشی ولی افغانی انجیزان دی په لیرو پرتو سیمو کی کارونه پرمخ بیایی او د اړتیا پر وخت به دشوروی انجینرانو سره سلامشوری کوی . داکار ددی په خاطر زما دتائید وړ وو چی افغانی انجبنرانو پدی توګه کولای شول په مستقل ډول خپلی زده کړی په عملی ډګر کی پکار واچوی او خپلوعلمی متانو ته توان ورکړی . خو پدغو نازکو شیبو کی بیا ددی کار نقص داوو چی ددوی د امنیت وساتلو ته باید پاملرنه شوی وای او داکار یوازی دافغانانو پخاطر په بشپړه توګه نه ترسره کیدی . کله چی به می د دوی ژوند ته عملی خطر و لیده ، فورا می ګروپونه له سیمی څخه ایستل ځکه تر معدنی شتمنیو د انسان ژوند راته ډیر ګران ښکاریده . په همدی خاطر مو د نیکه مرغه بیله عینک نه اصلا ځانی تلفات صفر ته نژدی وه . پدی اړه زما شناخت چی د وسله والو قوتونو دمشرانو سره می دکورنیو چارو او ملی دفاع وزارت کی درلود ، هم مرسته وکړه چی دوی زموږ دګروپونو په امنیت او را ایستلو کی کمک راسره کاوه .

پدی توګه د ۱۹۸۱ کال نه پیل د عینک نه پرته نور ټول ساحوی کارونه چی پخوا په ټول هیواد کی روان وه ، یوازی په یوشمیر محدودو برخوکی و ښاری امنیتی ساحو ته نژدی راغونډ شول . خو دعینک پرکان باندی د بی شمیره تلفاتو په منلو سره کارونه د رژیم تر نسکوریدو پوری جاری وساتل شوه . البته ځانی تلفات هم وسله والو قوتونو ورکول چی اکثره وختونه یی بی تجربی کسانو ته دقطار امنیتی چاری سپارلی . د کارګرانو شفتونه می په میاشت کی یو ځل د څرخکو په مټ تبدیلول ، ولی اکمالات مو په لاریو کی د وسله وال قطار په بدرګه او دجنګی څرخکو په حمایه سرته رسول چی ځینی وختونه به ددی ټولو سره سره د درندو تلفاتو سره تړلی وه . پردغی لاری باندی د ډیرو شاه ځلمیانو ککری د وینو رود یووړی او پرقبرونو یی شنی جنډی وریپیدی . پخپله په عینک کی د دفاع وزارت داتمی فرقی یو مجهز غنډ او دکورنیو چارو د وزارت یو مجهز کنډک د امنیت د پاره ځای پرځای وو . د دوی تر منځ هماهنګی منځته نه راتله ، هریوه به خپل امنیت ساته خو دکارکولو پرځای هیچاهم پسته نه اچول . په مرکز کی ددی مشکل حلول ګرانه خبره شوه . په پای کی مو و پتییل چی باید زه پخپله د اتمی فرقی د قوماندان ، دفرقی دسر سلاکار او د کورنیو چارو د وزارت دصلاحیت لرونکی استازی سره هلته ولاړ سم څو ځای پرځای د کار ساحی وټاکو او دامنیت مسئول قوتونه یی هم هلته په ګوته کړو . ددی سفر دپاره نیټه وټاکل شوه او دا هم دهمدغی شومی نیټی سره تړلی یوه بله ترخه او زړه بوګنونکی خاطره :

د ټاکلی نیټی نه څلور ورځی وړاندی ما د وزیر په هدایت د یوه چکی راغلی هیات سره د غوری د سمنټو د نوی فابریکی دپاره د کرکر – دودکښ د ډبرو سکارو د زیرمو دجاج اخیستلو او یو لړ نورو کارونو پخاطر پلخمری ته حرکت وکړ او عینک ته دنوموړی نیټی نه بابد یوه ورځ دمخه بیرته کابل ته راغلی وای . هغه وخت داچی په پلخمری کی هوایی ډګر نه وو نو اول کندز ته په الوتکه اوبیا له هغه ځایه د څرخکی پواسطه دپلخمری کیلګی ته سفر کیده . دبیرته راتګ پرمهال کیلګی ته دهوا دخرابوالی له مخی څرخکه الوتکه را ونه رسیدله . دابله ورځ عینک ته دسفر نیټه وه ، زه اول کندز اوبیا له ځایه په نظامی الوتکه کی کا بل ته پداسی وخت ورسیدم چی عینک ته هیلیکوپټر پرواز کړی وو . داچی زه نه وم , نو پرځای می دعینک دمعدن امر شهید انجینر بصیر چی یو پیاړی متخصص اوتکړه اداره چی وو ، د ټاکلو کسانو سره یوازی هلته ولاړ . هغه دمعدن کارونه خو ګویاهلته تنظیم شوه مګر افسوس او سل افسوسه چی دبیرته راتګ پروخت پرڅرخکه باندی کابل ته نژدی د موسهی په هوا کی ستینګر ولګید ، لاندی یی را وغورځول او ټولی سپاره کسان یی په ابدی خوب ویده کړل ، روح دی ښاده وی . پدغه خونړی پیښه کی ټول ۱۳ تنه له منځه ولاړل . پدی ډله کی جنرال عظیم د اتمی فرقی قوماندان ، دده یاور اویو شمبر باډی ګارډان ، د


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ښارندوی د اړوند غنډ قوماندان چې نوم يې داګړی رانه هير دی ( خو فکر کوم ډګروال شهباز نوميدی ) او همدارنګه داتمی فرقې دکشف شوروی سلاکار جنرال دخپلو يو شمير همکارانو سره ګډون درلود . زه لدغه مرګونی پيښی نه د هوا خرابوالی وژغورلم چې څرخکه يې پری نښوده کيلګی ته راشی اوما ترکندزه ورسوی . د دندی پرمهال زه دداسی ډيرومرګونو پيښو سره مخامخ شوی يم چې هر ځل يوه دغه ډول تصادف تری نه بچ کړی يم او لکه کبله يې بايد دڅغورونکی خدای شکر ادا کړم .

پرعينک باندی ډيرو انجينرانو کار کړيدی خو يوازی دوه تنه يې په مسلکی لحاظ ډير پياوړی او تر ټولو برلاسی وو . يو يې همدغه شهيد انجينر بصير د معدن امر چې دظالم ستينګر پلاس کښيوت او بل يې ديپلوم انجينر محمد امين صادق د معدن سر انجينر چې د افغانستان دمعدنو په چارو کی دده پشان متخصص له بده مرغه بل نلرو . دغه پياوړی متخصص محمد امين چې زما هم صنفی او ډير ګران شخصی ملګری وو ، دکرزی صاحب دحکومت په پيل کی د اروابناد محمد جمعه محمدی دکانو او صنايعو وزيرسره په پاکستان کی همدارنګه ديوی هوايی پيښی ښکارشو ، فردوس جنت دی په برخه وی . بايد ووايم چې ددوی ځای به دافغانی جيولوجستانو تر منځ د لسګونو نورو کالو دپاره خالی پاته او ډکول به يې ډير وخت وغواړی .

په هغو ډيرو ترينګلو شرايطو کی دعينک د مسو زيرمو دمحاسبی د کارونو فعال ساتل اوتر پايلی رسول ، دا د افغانانی انجينرانو ، کارګرانو او وسله والو قوتونو د فداکاريو او دوطن داقتصادی پرمختيا او ټولنيزی سوکالی پخاطر دتل يادولو وړ يوه لوړه بيلګه ده چې د لاسته راوړنی اهميت يې نن هر افغان وطنوال ته دچينايانو سره د قرارداد پربنسټ څرکند شو . دافغان مجاهد اوولس قربانی چې د وطن د ازادولو پخاطر يی د سرو لښکرو په وړاندی منلی او زغملی ده ، دهيواد په تاريخ کی به په زرين خط وليکل شی او راتلونکی نسلونه به تل پری وياړی . خو تنظيمی مشران د ای اس ای لخوا تل و دی ته هڅول کيدل چې دخپل هيواد بنسټيز تاسيسات وران او اقتصادی ستنی يی له بيخه وباسی . دوی په خپل ټول وس ددغه دستور سره سم کارکاوه اوچې کابل ته راورسيدل ، په هيواد کی د سلګونو کلونو غونډه شوی شتمنی او ټول اقتصادی بنسټونه يی په څو ورځو کی دغنيمت او ونډ پنامه چور کړل . دا نه يوازی ټولو هيوادوالو بلکه ټولی نړی پخپلو سترګو وليدل . داهغه څه دی چې د رښتينو مجاهدو پرګنو پربيشميرو قربانيو او فداکاريو باندی يی سيوری غوړولی او له همدی کبله تر دا اوسه پوری تاريخوال ورنه تر څنګ تيريږی .

درانه وطنوال می د چينايی پانګه والو سره د عينک دمسو د کان د قرارداد دخبر تر اوريدو وروسته دا پوښتنه هم راڅخه کوی چې : ايا ددی قرارداد شرايط دهغه قرارداد سره څه توپير لری چې دسره اردو تر يرغل وروسته دشورويانو سره لاسليک شو ؟ داخبر زما دپاره هم په زړه پوری ده او ددغه فرصت نه په ګټه اخيستلوسره بايد وطنوال پری خبر کړم . د شورويانو داشغال وروسته دصدارت څخه دسلطانعلی کشتمند په امر د عينک کان دقرارداد په موخه تخنيکی – اقتصادی اسناد چې شوروی ماهرانو تکميل کړی وه ، وزارت ته را وليږل شول څو افغانی اړوند ماهران يې په هکله نظر ورکړی . پرنسيپ داسی وو چې دا ډول اسناد بايد د وزارت دلاری بشپړ شوی وای او د وزيرانوشوراته دمنظور کولو پخاطر وړاندی شوی وای نه په معکوس ډول . د وزارت نه غوښتل شوی وه چې بايد دتخنيکی – اقتصادی اسنادو پداسی برخو کی لکه برق ، ترانسپورټ ، کورجوړونی ، استخراجی چاری ، اقتصادی چاری او نوروکی خپل نظر وړاندی کړی . په هره برخه کی کميسيونونه جوړ شول او دټولو سازماندهی چاری زما پرغاړه وی . ددغه قرارداد له مخی دمسو د ذوب او متالورژی کمبينات په شوروی کی په نظر کی نيول شوی وو او يوازی د مس لرونکو ډبرو دغنی کولو کمبينات به په افغانستان کی جوړ شوی وای . ددی قراردادسره سم غنی شوی ډبری ( کانسنترات ) شوروی ته صادری کيدی چې هلته بيا دوی پخپله ذوب کولی او پاخه مس يی دځان دپاره تری نه ترلاسه کول . زما او د يو شمير نورو جيولوجستانو نظر داوو چې بايد پخپله د متالورژی کمبينات په افغانستان کی جوړ او پاخه توليد شوی مس شوروی ته صادرشی نه غنی شوی ډبری .داکار ما په لاندی دلايلو سره دخپل هيواد په ګټه بالله :

**الف** – د پخو مسو دصادرولو او خرڅلاو ګټه د کانسنترات تر خرڅولو ډيره زياته ده .
**ب** – ددی کان په ډبرو کی د مس برسيره سپين زر ، سرب ، جست او يوشمير نور فلزات هم په لږ مقدار شته چې د اوس دپاره يی ترلاسه کول په ننني تخنيک سره ګټور ندی . کيدلای شی دتکنالوژی په پرمختيا او دنوی تخنيک په منځته راتلو سره لدغو فلزاتو څخه هم کار واخيستل شی . که د ذوب کارخانه په افغانستان کی وی ، نوموړی مواد د تفالی سره په افغانستان کی دراتلونکی د پاره ذخيره پاته کيږی او که په بل هيواد کی وی ، دا دهغوی راتلونکی زيرمه ده .
**ج** – که داکارخانه په افغانستان کی وی ، نو په زرګونو نور افغانی کارګران هم په کار لويږی او کار د غريبو پرګنو د ژوند پر سوکالی باندی دپام وړ مثبت اغيز ښندی .
**د** – پدی کار سره بيا کارګری غورځنګ هم پياوړی کيږی چې دی خبری هم هغه وخت ډير چسپ درلود .

خپل دانظر می د ښاغلی وزير - محترم دانش سره شيريک کړ . نوموړی چې يو رښتينی وطنپال او مسلکی سړی وو ، دا وړانديز يی تائيد کړ . مګر شوروی پلاوی د يولړ ذهنی ذلايلو له مخی ددی وړانديز سره مخالفت کاوه .



افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالیږلو مخکې په ځير و لولئ

پدی توگه خبره اوږده شوه او دکشتمند له دفتر نه یی هره ورځ فشار اچاوه چی کار باید هر څه ژر خلاص شی . زما سرمشاور چی د داود خان له وخت نه یی همدلته کارکاوه او لدی نه وړاندی دی په جیولوجیکی چارو کی د شوروی صدراعظم الکسی کاسیګین مشاور او د برژنیف سره دهغه په مخالفتونو ډیربنه خبر وو . ده د برژنیف نه ډیر بد وړه او دیرغل پر تصمیم باندی یی سخت خوابدی او ناراضه وو چی کله ناکله به یی په یوه یا بل ډول خپل نفرت څرګنداوه . دی یوه ورځ دکار دختم وروسته ماته راغی او راته یی وویل چی ستا په تشویش زه ښه پوهیږم ، ستا نظر سره لدی چی د افغان لوری په ګټه دی ، مګر غواړم په یوه خبره دی پوه کړم چی دغه قرارداد ډیر پخوا او دکانو او صنایعو وزارت ته تر رالیږلو مخکی ستاسی د وزیرانو دشورا رئیس کشتمند او زموږ دسفارت اقتصادی مستشار لاسلیک کړیدی او ټولی رسمی مرحلی یی دوی پخپلو تیری کړی دی . پدی کی هیڅ ډول بدلونونه راتلای نشی . دایوازی دسفارت په غوښتنه دلته راولیږل شو چی په فورمالیټی ډول یی قانونی پړاوونه ترسره اوحقوقی خلا یی ډکه کړی . کشتمند بیله هغه تا او دانش دواړو ته بهانه لټوی ، نور نو ستاسی خپله خوښه ده . که زما خبره منی د شوروی هیات سره ډیر جنجال مه جوړوه ، هغوی هره ورځ دصدارت مشاورته راپور ورکوی چی داستاسی په ګټه نه تمامیږی . که خپل پر نظر باندی بیا هم ټینګ ولاړ یی ، هغه دقراراد سره ضمیمه او دکمیسیون دنظر په توګه یی صدارت ته ور ولیږه نه دخپل شخصی نظر په توګه چی بیا تاوان درته کوی. ته پخپله پدی ښه پوهیږی ، کشتمند هغه څه کوی چی مشاور یی ورته وایی . موږ همداسی وکړه خو ربښتیاهم په قرارداد کی هیڅ بدلون رانغی ځکه هغه پخوا لا لاسلیک شوی وو . په افغانستان کی ازادی بخښونکی جنګ زور واخیست . کله چی دګرباچوف په وخت کی شورویانو دخپل اشغالګر اردو پر وتلو فکر کاوه ، سفارت یی د نوموړی قرارداد دفسخ کولو وړاندیز وکړ او فسخ شو چی زه او همکاران می پدی کار ډیر خوښ شوو .

کله چی دچینایانوسره تیرکال دعینک قرارداد لاسلیک شو ، دکانو او صنایع پخوانی مرستیال وزیر محمد اکرم غیاثی چی دپولی تخنیک په انستیتوت کی زما شاګرد وو او اوس یی استعفا کړیده ، په تلیفون کی راته وویل چی پدی قرارداد کی ټول لوړ ټکی په پام کی نیول شوی دی . پدی توګه دا قرارداد که په لاسلیک کولو کی یی رښوالۍ موجود وی او فساد رول نه وی لوبولی ، دهغه بل قرارداد په پرتله چی سلطانعلی کشتمند لاسلیک کړی وو ، دافغانانو ډیر په ګټه دی . که څه هم ددی قرارداد بشپړ جزئیات ماته ندی معلوم ، خو که دغه لوړ ټکی ربښتیاهم هلته په پام کی نیول شوی وی ، دتائید وړ ګڼل کیږی .

ښاغلی عبدالحنان روستایی د ګفتمان په سایت کی د ( بازی استعمار در هنګامه معادن افغانستان ) تر سرلیک لاندی یوه لیکنه نشر کړی او هلته یی لیکلی ( معدن مس عینک . . . . که دارای ۷۰۰ میلیون تن سنګ مس بوده . . . . ) . نوموړی وروسته د المان دشپیګل مجلی د قوله لیکی چی د چینایانو سره د عینک پدغه قرارداد کی دکانو اوصنایعو پخوانی وزیر محمد ابراهیم عادل ۳۰ میلیونه ډالره رشوت اخیستی او داپیسی یی په دوبۍ کی ترلاسه کړی دی او همدارنګه کریم خلیلی هم چی ښاغلی عادل یی د قومی او ګوندی اړیکو له مخی د وزیر په توګه مقرر کړی وو ، ۳۰۰ میلیونه ډالره یی خپله ونډه اخیستی ده . پدی موضوع باندی زه خبر نه یم او ځکه نو څه ویلای نشم . خو نپوهیږم چی محترم روستایی به دمسو دزیرمو په اړه دا ارقام دکوم سند له مخی یاد کړی وی او همدارنګه د ( سنګ مس ) څخه به دده هدف څه وی ، مګر د مسو زیرمی پدغه معدن کی د ۱۰ څخه تر ۱۱ میلیون ټنو پوری حساب شوی دی نه ۷۰۰ میلیونه ټنه ( کاشکی دومره زیاتی وای ). ماته تر اوسه دکوم معدن پته نشته چی دمسو زیرمه یی دومره وی . ښاغلی حنان روستایی په نوموړی لیکنه کی د پنجشیر د زمردو دمعدن په اړه زیاتوی چی یوازی په ۱۹۹۲ کال کی دنظار شورا لدی معدن نه د شلو میلیون ډالرو په ارزښت زمرد خارج ته قاچاق کړیدی او په غیر فنی استخراج سره یی ستر زیان ونوموړی معدن ته اړولی دی . داچی د څومره میلیونو ډالرو زمرد یی قاچاق کړیدی ، زماسره کوم سند نشته خو داچی په وحشانه استخراج سره یی و دغو ملی شتمنیو ته د نژدی درو لسیزو په موده کی نه جبرانیدونکی زیان اړولی دی ، د معدن پیژندنی هر یو شاګرد ور څخه سترګی پټولای نشی .

د پنځمی برخی پای . نور بیا


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ